یـونـامـا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندویه پلاوي دفتر
دستراتیژیکو اړیکو دفتر
مطبوعاتی اعلامیه
www.unamanews.org/pashto

**په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ملکي تلفاتو شمیره ۲۲ سلنه زیاته شوې**

**په مخامخ ځمکنیو جګړو او نښتو کې ډیروالی په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي تلفاتو د زیاتوالي لامل شوی دی**

***کابل، د ۲۰۱۵ کال د فبروری ۱۸مه نیټه:*** نن د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)، د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری په همغږۍ د ۲۰۱۴ کال کالنی راپور **"په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه"** په نوم خپور کړ او ویې ویل چې د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ښکیلو خواوو د ځمکنیو نښتو او جګړو له امله په ۲۰۱۴ کال کې د افغان ملکي وګړو تلفاتو کې ۲۲ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د ملکي وګړو ۱۰۵۴۸ تلفات مستند کړي دي چې له ۲۰۰۹ کال راهیسي د یوکال په موده کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې تر ټوله لوړه شمیره ده. په تلفاتو کې د ۳۶۹۹ ملکي وګړو مرګ (چې ۲۵ سلنه زیات شوی) او د ۶۸۴۹ ملکي وګړو ټپي کیدنه (چې ۲۱ سلنه زیاتوالی په کې راغلی) شامله ده، چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي وګړو ټولټال تلفات ۲۲ سلنه زیات شوي دي. د ۲۰۰۹ کال راهیسي په افغانستان کې د وسله والې جګړې له امله ۴۷۷۴۵ ملکي وګړو ته مرګ ژوبلې وراوښتې دي چې ددوي له جملې څخه ۱۷۷۷۴ افغان ملکي وګړو ژوند له لاسه ورکړی او ۲۹۹۷۱ ټپیان شوي دي.

د ۲۰۰۹ کال راهیسي په لومړی ځل، د ځاي پر ځای شوي چاودیدونکو توکو او همدارنګه د نورو تکتیکونو په پرتله په ځمکنیو نښتو او جګړو کې ډیرو افغان ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د راپور موندنې ښیې چې د ځمکنیو نښتو او جګړو له امله د ملکي وګړو تلفاتو کې ۵۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې تر ټول لوی لامل دی او په ۲۰۱۴ کال کې ډیر افغاني میرمنې او ماشومانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی په زیاتره د مخامخ ځمکنیو جګړو لا امله منځ ته راغلی دی او په جګړه کې ښکیلو خواوو چاودونکي وسلې لکه هوانونه، راکیټونه او لاسي بمونه په هغو سیمو کې کارولي چې ملکي وګړي په کې اوسیږي او کله ناکله یې دا وسلې پرته له توپیره کارولي دي. د ځاي پر ځای شوي چاودونکو توکو له توپیره پرته کارول او د دولت ضد عناصرو لخوا په ځانمرګي بریدونو کې زیاتوالی په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي وګړو په تلفاتو کې د ډیروالی لامل شوی دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی او د یوناما د پلاوي مشر ښاغلي نیکولاس هیسم وویل:" د جګړې د ښکیلو خواوو ترمنځ د مخامخ مځکني جګړې او نښتو کې ډیروالی او د ځای ځای پر شویو چاودونکو موادو په وسیله په بریدونو کې زیاتوالی، د افغانستان په ټولنو کې افغان ملکي وګړو ته درنده مرګ ژوبله اړولې ده. په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي وګړو په مرګ ژوبلې کې زیاتوالی ددې خبرې تایید کوي چې (د جګړې د ښکیلو خواوو) شوی د ملکي وګړو د ساتنې ژمنې ناکامي شوې دي. د جګړې ښکیلې خواوې باید د خپلو کړنو په اغیزو باندې پوه شي او مسولیت یې ومنې او په دې ارښتونو چې دوي یې د ساتلو ادعا کوي باید ټینګ پرې ودریږي او د ملکي وګړو ساتنه خپل تر ټولو اوچت لومړیتوب وګڼې."

د یوناما راپور دا په ګوته کوي چې د ډیرو ملکي وګړو د مرګ او ژوبلې مسوول د دولت ضد عناصر دي. راپور د ټولو ملکي تلفاتو ۷۲ سلنه د دولت ضد عناصرو، ۱۴ سلنه یې د دولت پلوه ځواکونو (۱۲ سلنه یې افغان امنیتي ځواکونو او دوه سلنه یې نړیوالو ځواکونو) ته منسوب کړې او ۱۰ سلنه یې د دولت ضد عناصرو او افغان امنیتي ځواکونو د مخامخ مځکنی جګړو له امله منځ ته راغلي چې ملکي تلفات په کې کومې ځانګړې ښکیلې خواته منسوب شوي نه دي. درې سلنه ملکي تلفات له جګړې پاتې شوي چاودونکو توکو له امله منځ ته راغلي او پړه یې پر چا نه ده اچول شوې او یو فیصد یې د پولې هغه غاړې (پاکستان) لخوا د ګولیو د ورولو له امله منځ ته راغلي دي.

څرنګه چې په ۲۰۱۴ کال کې د نړیوالو نظامي ځواکونو وتل او په جګړې کې هوایي ملاتړ دوام وموند، یوناما ته دا مالومه شوه چې د افغان امنیتي ځواکونو او د دولت ضد عناصرو تر منځ په ډیرو ساحو کې ډیر پراخ او لوی ځمکني عملیات رامنځ ته شول او ډیری وخت د ولسوالیو په مرکزونو او شاوخوا کې جګړې رواني وې. په هغو سیمو کې چې ملکي وګړي په کې اوسیږي، مخامخ مځکنی جګړې ډیرې شوې او ټول ښکیلو خواوو هوانونه، نورې چاودونکي وسلې او وړې وسلې وکاروليې چې ډیری وخت ملکي وګړو ته مرګ ژوبلې واوښتې ځکه چې ملکي وګړي د ډزو په تبادله کې راګیر شوي وو.

یوناما د ملکي وګړو ۳۶۰۵ (۱۰۹۲ مړ شوي او ۲۵۱۳ ټپیان شوي) تلفات چې د مخامخ مځکنیی جګړو له امله منځ ته راغلي، مستند کړي دي، چې دا د ۲۰۱۴ کال د ټولټال ملکي وګړو د تلفاتو ۳۴ سلنه کیږي. د دوي له جملې نه، یوناما د ۴۳ سلنه ملکي تلفاتو پړه پر دولت ضد عناصرو او ۲۶ سلنه دملکي وګړو د تلفاتو پړه یې په افغان ملي امنیتي ځواکونو اچولې ده. یوناما ونه شو کړلای چې ۲۹ سلنه د ملکي وګړو تلفات چې جګړې ښکیلو خواوو د مځکنی عملیاتو په ترڅ کې منځ ته راغلي وو، په کوم یو ځانګړې ښکیلې خوا ته منسوب کړي. او د مځکنی عملیاتو دوه سلنه د ملکي وګړو تلفات د پولې پورې غاړې (پاکستان) نه د ګولیو اورولو ته منسوب شوي دي.

د یوناما راپور موندنې دا جوتوي چې د مخامخ مځکنی جګړو له امله د رسیدلو ملکي تلفاتو نیمایي یې د جګړې د ټولو ښکیلو لخوا د وسلو غیر مستقیم کارول وو چې په ډیره سیمه باندې اثر کوي په تیره بیا د هاوانونو او ورسره د راکیټونو او لاسي بمونو کارول. په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د هاوانونو، راکیټونو او لاسي بمونو له امله منځ ته راغلي ۱۷۸۸ ملکي وګړو تلفات (۴۴۷ مړ شوي او ۱۳۴۱ ټپیان شوي) مستند کړي دي چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله دا شمیره ۷۳ سلنه لوړه شوې ده.

د دولت پلوه ځواکونو په مخامخ مځکنی جګړو، عملیاتو او بریدونو له امله د ملکي وګړو په مرګ ژوبلې کې په څرګند ډول زیاتوالی راغلی دی چې له امله یې ۹۲۱ ملکي وګړو ته (۳۳۶ مړ شوي او ۵۸۵ ټپیان شوي) مرګ ژوبلې اوښتي دي او پړه یې پر دولت پلوه ځواکونو اچول شوې ده. چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۴۱ سلنه لوړوالي ښیي. د دولت ضد عناصرو د مخامخ مځکنی جګړو، عملیاتو او بریدونو له امله د ملکي وګړو په مرګ ژوبلې کې زیاتوالی هم مستند شوی دی چې ۱۵۵۱ ملکي وګړو (۴۳۸ کسانو مړینه او ۱۱۱۳ ټپي کیدنه) ته تلفات رسیدلي چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله په کې ۵۱ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

د راپور موندنې ښیي چې په ۲۰۱۴ کال کې وسله والې جګړې او په مخامخ مځکنی جګړو کې زیاتوالی ښځو او ماشومانو ته په ځانګړي ډول ډیر زیانونه رسولي دي. په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د ماشومانو په مرګ ژوبلې کې د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی مستند کړی دی چې د ۲۴۷۴ ماشونو مرګ ژوبله (۷۱۴ مړ شوي او ۱۷۶۰ ټپیان شوي) یې مستند کړې ده. د ښځو تلفات ۲۱ سلنه زیات شوي او ۲۹۸ ښځې مړې شوې او ۶۱۱ یې ټپیانې شوې دي.

د افغان میرمنو په ژوند باندې د جګړې د پراخ ټولنیز او اقتصادي اغیز د ګوتو کولو په خاطر، یوناما د افغانستان له ټولو ساحو څخه له ۶۰ هغو میرمنو سره مرکې وکړې چې د ۲۰۱۴ کال د جګړې اړوند تاو تریخوالي کې یې میرونه وژل شوي او یا مره شوي وو. ددوي میرونه ملکي وګړي وو. یوناما ته دا څرګنده شوه چې هغه ښځې چې د خاوندانو د مرګ او یا سخت ټپيي کیدلو وروسته د خپلې کورنی له پاره یوازینی در امد وسیله وه، له ډیرو اوږدو او منفي ټولنیزو او اقتصادي پایلو سره مخ شوې او نیستی ډیرې ښځې دې ته اړ کړې چې د پور په پرې کولو کې خپلې لوڼې ورکړي او یا خپل ماشومان د کار کولو په خاطر له ښوونځیو څخه وباسي. ډیر وخت کونډې په ځانګړې ډول د تاوتریخوالي د ګڼو ډولونو او د کورنی او

د ټولنې د غړیو لخوا د ناوړه چلند له پلوه زیانمنیدونکې وې. دا موندنې د افغانستان د دولت د فوري اقدام کولو تقاضا کوي چې د ددې ډلې چې ډیره زیانمنیدونکې ده او ډیری وخت له پامه غورځول شوي ښځې او ماشومان دي، د دوې لومړنې ضرورتونه ور پوره کړي.

د یوناما د بشر د حقوقو د څانګې مسولې جورجټ ګنیون وویل: " په جګړه کې د افغان میرمنو د میړنو او د دوې د ماشومانو د پلرونو له لاسه ورکولو غمیزه ډیر وخت د کړاو او ستونځو پیل دی. اوږد مهاله ټولنیزې او اقتصادي پایلې تباه کونکې دي او په ژر زیانمنیدونکو باندې ډیرې ناوړې اغیزې لري. له یو کال وروسته چې د جګړې سره تړلې تاو تریخوالي چې ډیرې پیښې یې د مخامخ مځکنۍ نښتو له امله راغلې وې، ډیرو ښځو او ماشومانو ته مرګ ژوبله واړوله. د افغانانو ژوند ته زیان او د تباهې په غبرګون کې باید په جګړې کې ښکیلې ټولې ډلې یوه نوې ژمنه وکړې چې دوې به د افغان ملي وګړو ته له زیان رسولو څخه ډډه کوي."

د یوناما راپور د دولت ضد عناصرو لخوا د ځای پر ځای کیدونکې توکو د کارولو له امله د ۲۹۷۸ ملکي وګړو (۹۲۵ مړه او ۲۰۵۳ ټپیان شوي) ته مرګ ژوبلې اوښتې دي چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله درې سلنه لوړوالي ښیې او د ۲۰۰۹ کال راهیسې د ځای پر ځای کیدونکې توکو له امله د مستند شویو ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه شمیره ده. د دولت ضد عناصرو لخوا په ځانمرګې او ډله ییزو بریدونو کې ملکي تلفات ۲۸ سلنه زیات شوي دي او یوناما د ۱۵۸۲ ملکي وګړو تلفات ( د ۳۷۱ مړینه او د ۱۲۱۱ ټپي کیدنه) مستند کړې ده او د مخامخ مځکنۍ نښتو او د ځای پر ځای شوي چاودونکو توکو نه وروسته، ځانمرګې او ډله ییز بریدونه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې دریم لامل دی.

د دولت ضد عناصرو لخوا هدفي وژنې د ټولو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱۱ سلنې سبب شوې دي او یوناما د ۱۱۱۴ ملکي وګړو تلفات (د ۷۵۳ مړینه او د ۳۶۱ ټپي کیدنه) ثبت کړې ده، چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله پنځه سلنه راټیټ شوي دي. په هدفي وژنو کې د قومي مشرانو، د دولت مامورینو، ملایانو او د عدلي او قضایي مامورینو وژنې شاملې دي.

د راپور موندنې ښیې چې د په ۲۰۱۴ کال مې د ټولټال ملکي تلفاتو څلور سلنه یې له جګړې پاتې چاودونکو توکو له امله منځ ته راغلې او دوه سلنه یې د نړیوالو نظامي ځواکونو د عملیاتو له امله منځ ته راغلې دي.

دولت پلوه ځواکونو هغو اقداماتو پلې کولو ته ادامه ورکړه چې موخه یې په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي وګړو د تلفاتو د کچې را ټیټول وو. د دې اقداماتو سره سره، یوناما په ملکي تلفاتو کې د دولت پلوه ځواکونو او په تیره بیا افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د زیاتوالی مستند کړی دی. یوناما ۱۴۷۸ ملکي تلفات ( د ۶۲۲ مړینه او د ۸۵۶ ټپي کیدنه) مستند کړې چې د دولت پلوه ځواکونو ملکي وګړو ته اړولي دي او د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۵۱ سلنه زیاتوالی په کې راغلی دی. د ملکي وګړو ډیر تلفات د مځکنیو عملیاتو په ترڅ کې منځ ته راغلي دي.

د ۱۴۷۸ ملکي تلفات چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا منځ ته راغلي وو، یوناما د ۱۲۲۵ ملکي وګړو تلفات (۴۶۸ مړینه او د ۷۵۷ ټپي کیدنه) افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي او (چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۸۵ سلنه زیات شوي)، د ۱۰۲ ملکي وګړو تلفات یې (۵۳ مړشوي او ۴۹ ټپیان شوي) د دولت پلوه ولسه والې ډلې (ملیشو) (چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله په کې ۸۵ سلنه زیاتوالی راغلی) او ۱۵۱ (۱۰۱ مړشوي او ۵۰ ټپیان شوي) یوازې د نړیوالو نظامي ځواکونو ته (چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۴۳ سلنه کمی په کې راغلی) منسوب کړې دي.

> یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو (ملیشو) لخوا د ملکي وګړو په ضد په شمال، شمال ختیځ او جنوب ختیځ سیمو کې د بشري حقونو سرغړونو کې ډیروالی مشاهده کړی او حکومت د دې وسله والو ډلو څخه په حساب اخیستنې او د قرباني شویو ملکي خلکو او د ټولنې په خوندي کولو کې تر ډیره ځایه ناکام پاتې شوی دی. یوناما د افغانستان له دولت څخه غواړي چې د دولت له ژمنو سره سم دې ټولې وسله واله ډلې او ملېشې بې وسلې او منحل کړي.

یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د دولت ضد مخالفینو په شمول د طالبانو له خوا ډیرې پیښې ثبت کړې چې په دې پیښو کې ملکي خلکو ته د شرعي قانون نه د سرغړونې په اتهام چې جرم او یا جاسوسي تور ګمان پرې کیده مجازات شوي. د ثبت شویو

پېښنو په ډله کې د دولت ضد وسلوالو لخوا صحرايي محکمې، سرغوڅول، د بدن د غړو پرې کول، وهل، په دورو وهل او غير قانوني توقيف شامل دی. يوناما دا په ګوته کوي چې موازي قضايي جوړښتونه غير قانوني او د افغانستان د قوانينو په رڼا کې مشروعيت او قانوني بنسټ نه لري. هغه سزا ګاني چې د دې جوړښتونو لخوا تطبيق شوې د بشري حقونو سرغړونه بلل کيږي او يا د افغانستان د قانون په اساس جرمي عمل پيژندل شوی، او په ځينې مواردو کې جنګي جرم ګڼل کيږي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي او د يوناما د پلاوي مشر ښاغلي نيکولاس هيسم وويل:" په افغانستان کې د ۲۰۱۴ کال د تاوتريخوالي بوږنونکي کچه بايد په ۲۰۱۵ کال کې تکرار نه شي. د جګړې ښکيلې خواوې په تيره بيا د دولت ضد عناصر بايد هر هغه څه چې توان يې لري وکړي چې د نړيوال بشري قوانينو سره سم چې د دوي ملکفيت دی، ملکي وګړي وساتي. د ا په دې مانا ده چې د دولت ضد عناصر بايد په هغو کړيو ژمنو ټينګ ودريږي چې په علني ډول يې کړې وي چې د ملکي وګړو ته به د تلفاتو له اړولو ډډه کوي او يا د ملکي خلکو د ګڼي ګوڼې په سيمو کې به د ځای پر ځای شوي چاودونکو توکو او د هاوانونو کارول ودروي او په قصدي ډول به په ملکي وګړو بريدونه نه کوي. "

**د يوناما د ۲۰۱۴ کال د کالني راپور څخه راخيستل شوې د ملکي وګړو خاطرې**

*" نيمه شپه وه او موږ ټول ويده وو. د هاوان يوه ګولۍ زموږ د خوب په کوټه کې ولګيدله اوزه او زما دوه وړې لوڼې يې ټپيانې کړې. د کور ټول غړي زموږ د خوب کوټې ته رامنډې کړې او دوي وليدل چې موږ له خاورو او ډبرو لاندې وو. دوي غوښتل چې موږ له خاورو خزلو اوباسي او په دې وخت کې د هاوان يوه بله ګولۍ راغله او زما دريمه کوچنۍ لور يې راته ټپي کړه او زما زوی يې هم ټپي کړ. کله چې د هاوان دريمه مرمۍ زموږ په انګړ کې ولګيدله، نو دا ځل يې زما ښځه ووژله او زما وراره او څلورمه لوربې راته ټپيانې کړې. زه نه پوهيږم چې دا هاوانونو ګولۍ د چا لخوا فاير شوې وې ځکه چې هم طالبان او هم افغان ملي امنيتي ځواکونه د يو بل پر ضد هاوانونه او راکټونه کاروي. زه نور ژوند نه غواړم ځکه چې ما سره دومره پيسې نشته چې د ټپي شويو ماشومانو د درملنې له پاره يې وکاروم او دوي ته د ډوډې اخيستلو له پاره ما سره هيڅ پيسې پاتې نه شوې."*

-- يو ملکي سړی چې ښځه يې هغه وخت مړه شوه او څلور لوڼې، يو زوي او واره يې هغه وخت ټپيان شول چې د ۲۰۱۴ کال د جون د مياشتې په ۱۶ مه نيټه د طالبانو او افغان ملي امنيتي ځواکونو تر منځ په مخامخ مځکنی نښتوکې په هلمند ولايت کې د سنګين په ولسوالی کې ددوي په کور د هاوان ډيرې ګولی ولګيدلې.

*"دا د ماسپښين وروسته و چې ما په يو تعمير کې کار کوو. ميرمن مې راته غږ کړ او چيغې وهلې چې په منډه کورته راستون شه ځکه چې په چاودنه کې زموږ بچيان مړه شول.ما ضعف وکړ او د حرکت نه وم. نور کاريګرو زما سره مرسته وکړه او کور ته يې يوړم. ميرمن مې راته وويل چې ټول ټپيان او مړي يې روغتونونو ته انتقال کړي. زه هغه نږدې روغتون ته ورغلم چرته چې مې خپل نهه کلن زوي په کټ کې پروت مړ وليد. ماته وويل شو چې زما بل زوي هم مړ دی. بيا مې خپله وړه لور وليده چې سخته ټپي شوې وه او بل زوي چې هغه هم سخت ټپی شوی و او په وينو کې رنګ وو. په سبا ورځ مې لور مړه شوه. ای زما ربه ، دا داسې لوی غم و ، درې بچيان مې مړه شو. زما د بچيانو جرم څه وو؟ دوي د نور کله په شان د کور د باندې عادي لوبې کولې. ما ته اويل شو چې دا د ليرې کنترول شوی بم و چې اصلي هدف يې د افغان ملي اردو يو افسر و. طالبان ولي ملکي خلکو، ښځو او ماشومانو ته پاملرنه نه کوي؟ طالبان کوم تهذيب او کوم قانون پسې روان دي؟ دا خو ډيره ساده ده : چې د ماشومانو او ملکي خلکو وژل په بشپړ ډول د اسلام په ضد عمل دی."*

-- د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په ۲۱ مه د کابل ښار کې د ريموټ کنترول بم کې د درې وژل شويو او يو ټپي شوي ماشوم پلار ، چې په بم کې د ملي اردو کاروان په نښه شوی وو. پنځه ملکيان مړه او دوه ټپی شوي وو.

*"واده هغه وخت په جنازه بدل شو کله چې د ملي اردو لخوا شړل شوې د هاوان ګولۍ زموږ په کور ولګيدلې. موږ په دې نه پوهيږو چې ولې يې موږ په نښه کړي وو او ولې موږ ته تلفات راوړي حال دا چې موږ هيڅ هم نه دي کړي. موږ چاته لاړ شو چې زموږ غږ واوري. زه په دې باور لرم چې له الله پرته نور هيڅوک زموږ غږ نه او اوري او هغه په دې خبر دی چې زموږ په سيمه کې څه تيريږي."*

-- د زوم خپلوان چې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په ۳۱ مه نیټه د هلمند ولایت د سنګین په ولسوالی کې د ملي اردو لخوا شړل شوي هاوان په ګولیو دده په کور کې لګیدلي وې.

*"زه یوه بې تعلیمه ښځه یمه او د کلتور حساسیت مانا دا ده چې موږ ښځو ته د کورنی ته د ډوډی پیداکولو له پاره د کورونو څخه د باندې کار کولو اجازه نشته، نو زه نشم کولای چې په خپلې کورنی سره اقتصادي مرستې وکړم. زما دري زامن چې زما د خاوند له مرګ مخکې ښوونځي ته تلل، دوي اوس ښوونځي ته نه ځي او دوي اوس شپني کوي چې خپله کورنی ته ډوډی پیدا کړي."*

-- یوه ۳۵ کلنه میرمن او د شپږو ماشومانو مور چې په ۲۰۱۴ کال کې د بدخشان په ولایت کې هغه وخت کونډه شوه کله چې د ځای پر ځای شوي چاودونکو موداو په چاودنه کې یې خاوند مړ شو.

یوناما د ۲۰۱۴ کال د ملکي وګړو راپور د افغانستان دولت، طالبانو او د ناټو د ټینک ملاتړ له هیت سره شریک کړی دی. ددوي لخوا شوي تبصرې لکه څرنګه چې مناسبه وه په دې راپور کې په ډیر غور سره په نظر کې نیول شوي او څیړل شوي دي. یوناما په جنګ کې ښکیلو ټولو خواوو د هغو هلو ځلو ملاتړ ته دوام ورکړي چې د ملکي وګړو د ساتني په موخه وي.

**سپارښتنې:**

**دولت ضد عناصرو ته**

د نړیوال بشردوستانه قانون لاندې مکلفیت سره په سمون کې :

- بی توپیره ( تفکیک) او غیرمتناسب بریدونونه، او په ملکي سیمو باندې د هاوانونو، راکټونو او اولاسي بمونو توغول ودروئ.
- په قصدي ډول د ملکي وګړو په نښه شوې وژني او ملکي ځایونو، په شمول د عبادت او کلتوري ځایونو او ملکي دولتي دفترونو په نښه کول ودروئ.
- د ملکي و ګړو د اوسیدولو په ځایونو کې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو کارول او په ځانګړي ډول د ځانمرګو بریدونو ترسره کول ودروئ او هم دغیر قانوني فشاري چاودیدونکو توکو توقف کړئ.
- ملکي خلکو هغه تعریف وکاروئ چې د بشرپالني د نړیوال قانون سره مطابقت ولري او د دې قانون د اوصولو سره سم په ټول نظامي عملیاتو کې تفکیک ، تناسب او احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسي.
- د طالبانو د رهبری لخوا هغه صادر شوي اعلامیې پلي کړئ کوم چې په ملکي خلکو او ملکي اوسیدنې ځایونو کې بریدونه منع کوي. هغه لارښودونه پلي کړئ چې د طالبانو غړیو ته لارښونه کړي چې د ملکي وګړو تلفاتو مخنیوی او ډېره وکړي او هغه کسانو سره حساب وشي څوک چې ملکي خلک هدف ګرځوي ، وژني او یایې ټپي کوي.

**د افغانستان دولت ته**

- د استوګنې په سیمو کې د هاوانونو، راکټونو او لاسی بمونو ویشتل ودروئ.
- ډیر کوښښ وشي چې ملکي وګړي د جګړې د اغیز نه خوندي شي، او د دې سره روښانه تاکتیکي لارښودونه، د نښتو په اړه قواعد او پروسیجر رامنځ ته او پلي شي، او هم ټول افغان امنیتي ځواکونه د ملکي وګړو د خوندي ساتنې د تدابیرو سره چې تلفاتو کې کمښت ، حساب ورکونه او د قربانیانو ته جبران ورکولو په اړه روزل او تمویل

شي.

- ټولې وسله واله ډلې او ملېشې بې وسلې او منحل کړئ ، او د هغه وسلواله ډلو د غړیو سر د حساب کولو نه ډاډ ورکړئ کومو چې د بشري حقونو څخه یې سرغړونه کړې.
- د افغان امنیتي ځواکونو د نور ښه ظرفیت ودې ورکولو ته دې لومړیتوب ورکړل شي، چې د ځای په ځای شوي چاوېدونکو توکو سره د مبارزې عملیات، د دې چاودیدونکو توکو له منځه وړل او استحصال قومانده او کنترول په اغیزمن ډول تر سره کړای شي.
- داسې پالیسي او پروسیجرونه دې رامنځ ته شي چې د جنګ په میدان کې د ځمکنی نښتو وروسته د ناچاوده چاودیدونکو پاتې شوني په نښه او پاکوالی ( تطهیر) په اړه یې ډاډ تر لاسه شي.
- د افغان امنیتي ځواکونو، د دولت پلوه وسلواله ډلو او ایتلافی ځواکونو د بشري حقونو د تیري او د نړیوال بشردوستانه قانون او بشری حقونو قانون څخه د سرغړونو ټول تورونه دې وپلټل شي. د افغانستان او نړیوال قانون په وړاندې ګرم پیژندل شوې کسان دې قانوني تعقیب او مجازات شي.
- د جګړې له امله تاوتریخوالي په نتیجه کې د وژل شویو ملکي وګړو د ښځو او فامیل لپاره د خسارې د جبران په اړه شته پروسیجرونو ته بیا ځل کتل او په دې کې تغیر راوړل شي او ورسره د خساري جبران او بنسټیز خدمتونو ته لاس رسي په اړه دې عامه پوهاوی ترسره شی .

**نړیوال نظامي ځواکونو ته**

- د ۲۰۱۵ وروسته د قاطع ملاتړ ماموریت لخوا افغان امنیتي ځواکونو سره مرسته کول، او اوسنی عملیاتي شرایطو ته په کتلو سره د دې نه ډاډ تر لاسه شي چې افغان امنیتي ځواکونه په بشپړ ډول تمویل تجهیز او روزل شوي. د افغان امنیتي ځواکونو سره مرستې ادامه ورکړئ چې په ۲۰۱۵ – ۲۰۱۷ کې ځای په ځای شوي چاویدونکو توکو سره د مبارزې عملیات، د دې چاودیدونکو توکو له منځه وړل او استحصال قومانده او کنترول په اغیزمن ډول تر سره کړای شي
- هغه کوښښونو ته ادامه ورکړل شي چې د نړیوال سوله ساتي ځواکونو(ایساف ) د ټول نظامي مرکزونو او تمرین ځایونه چې د عملیاتو د پیل وروسته بیا تړل شوي، د ناچاوده چاودیدونکو توکو ځایونه نقشه او په نښه شي او د پاکولو په اړه یې بشپړ ډاډ ترلاسه شي.
- په افغانستان کې ټول نظامیان یا خارجي استخبارات او امنیتي ځواکونه چې په یواځې سر یا د افغان امنیتي ځواکونو سره د ملاتړ لپاره ګډ عملیات ترسره کوي ، باید دې ډاډ ورکړي چې مخامخ ځمکني او او هوایي عملیاتو کې د ملکي وګړو د خوندې ساتنې په موخه ټول اړین ګامونه او تدبیرونه واخلي.
- د عملیاتو په پای کې د عملیاتو ارزونه، او د رامنځ ته شوي ملکي تلفاتو په اړه د ښکیل نړیوال او یا استخباراتي ځواکونو په اړه روښانه تحقیقاتو ته ادامه ورکولو په اړه اطمنان ورکول. د حساب ورکولو ، خسارې جبران او د عملیاتو نه د ښه زده کړو په اړه دې دوامداره اقدامات وشي.


د ملکي وګړو مرګ او ژوبله
د جنوري - دسمبر: ۲۰۰۹- ۲۰۱۴
7000
6000
5000
4000
3000
2000
1000
0
2412
3556
2792
4368
3133
4709
2769
4821
2969
5668
3699
6849
2009
2010
2011
2012
2013
2014
مړینه
ژوبله


په جګړه کې د ښکېلو خواو په لاس ملکي تلفات
جنوری- دسمبر ۲۰۱۴
د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو په منځ کې تلفات
10%
نور
4%
دولت پلوه ځواکونه
14%
دولت ضد وسلوال
72%







***



**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
For more information, please contact: Spokesperson-UNAMA@un.org
UNANMA online: http://unama.unmissions.org • Facebook • Twitter • Flickr • YouTube